
Pashto

# د هرکلي مرکز ته پخیر راغلئ



هغه خلګ چی د پناغوښتنی په ټمه د بروسل فیډاسیل د ښکته کیدلو مرکز ته راستانه شوی وی هغوی ته د مالوماتو پاڼی ویشل کیږی.

fedasil
FEDERAL AGENCY FOR THE RECEPTION OF ASYLUM SEEKERS

ARRIVAL CENTRE

## 04 / استوګنځی

دلته به تاسو ته ستاسو سامان په لاس درشي. د فیدازیل یو کارمند به وګوري چې آیا تاسو ستاسو د نړیوال تحفظ د درخواست د کتل کېدو پر مهال دلته د پاتې کېدلو حق لرئ که نه.

<u>ایا تاسو د هرکلی وړتیا لری؟</u> تاسو به د لنډې مودې لپاره د هرکلی په مرکز کی و اوسیږی. بیا به تاسو یو بل مرکز ته انتقال مومی هلته به تاسو ترڅو چې د پناغوښتنی کړنلاری مو مخ ته ځی، و اوسیږي. فیدازیل به تاسو د هرکلی ځای درکوی: چې دغه مرکز د فیدازیل یا هم د سره صلیب له خوا اداره کیږی. دا به یو 'ازاد' مرکز وي، په دې معنی چې تاسو دې عمارت ته په ازادې ننوتلی او ترې وتلی شئ په دې شرط چې د مرکز قوانینو ته احترام ولرئ. فیدازیل به هماغه وخت کې مرکز کې د موجودو کټونو او ستاسو د وضعیت (ستاسو د فامیل جوړښت، ستاسو روغتیا وغیره) په نظر کې نیولو سره پر اساس تاسو لپاره یو مرکز غوره کړي.

په مرکز کې ځای یو حق دی، مکلفیت ندی؛ تاسو دا پرېکړه هم کولی شئ چې هغه مرکز کوم چې فیدازیل درته درکوي رد کړئ، د بېلګې په توګه که چیرته تاسو په بلجیم کې داسې انډیوالان لرئ چې هغوی درته استوګنځی درکولی شي.

<u>ایا تاسو د هرکلی وړتیا لری؟</u> تاسو باید د راستنیدلو مرکز پریږدی. موږ به تاسو ته دعاجله صحي مرسته د حق درلودلو په هکله مالومات درکوو، مګر تاسی د هرکلی مرکز ته نشی تللی.

## څه دی؟

د ګرانه لغاتو معناوی د مالوماتو په پاڼه کی ترلاسه کړی.

<u>د بلجیم څخه د پنا غوښتنه؟</u> که تاسو د خپل وطن نه تښتېدلي یاست او بلجیم کې د پناهندګۍ درخواست ورکوئ، نو تاسو د 'نړیوال تحفظ' لپاره درخواست داخلولی شئ.

<u>د هرکلي مرکز؟</u> د بروسل په ('Petit-Château') تعمیرکی تاسی خپل غوښتنلیک د بلجیم د نړیوالی خوندیتوب اداری ته تسلیمولای شی. ستاسو په وضعیت باندې اتکاء سره کېدلی شي چې ستاسو د درخواست د کتل کېدو پر مهال تاسو ته د استوګنځی درکړی شي.

د هرکلي مرکز د <u>فیدازیل</u> لخوا چلول کېږي، کوم چې یو دولتي سازمان دی. ستاسو غوښتنلیک د نړیوالی حفاظت لپاره به په دغه مرکز کی د یوی بلی دولتی موسسی له خوا ثبتیږی : د <u>د مهاجرت د ریاست</u> .



# ستاسو د ښکته کیدلو په مرکز لومړی ورځ

**تاسو به د مرکز دننه مختلف قدمونه تعقیبوئ.**

## 01 /هرکلی

که تاسو تشریح ورکړئ چې تاسو د 'نړیوال حفاظت' لپاره درخواست (بلجیم کې د پناهندګۍ لپاره درخواست) ورکول غواړئ، نو تاسو نه به غوښتنه وشي چې د درخواست داخلولو لپاره مرکز ته داخل شئ.

ستاسی کالی: د هوایی ډګر کارکونکی ستاسی کالی به اخلی او هغه به تلاشی کوی. هماغه ورځ به وروسته سامان بېرته واخلئ. **خپل قیمتي شیان او هویتي اسناد ځان سره وساتئ (سامان سره یې مه پرېږدئ).** دا اسناد به د درخواست د داخلولو لپاره درته مهم وي.

## 02 / نوملیکنه

دلته به د مهاجرت دفتر نړیوال تحفظ لپاره ستاسو درخواست ثبت کړي.

د مهاجرت د دفتر کارکونکی به ستاسو څخه پوښتنی ولری چی ستاسو په اړه پوه شی(نوم، دزیږدنی نیټه، تابعیت..نور). هغوی به درنه هغه هویتي اسناد چې تاسو سره وي وغواړي.

د مهاجرت د دفتر افسر به همداراز ستاسو ګوتې واخلي. په دې طریقه هغوی کتلی شي چې ایا تاسو له دې وړاندې په بل کوم اروپایي هیواد کې راجستر شوي یاست یا نه. که بل هیواد کې راجستر شوي یاست نو کېدی شي تاسو هماغه هیواد ته واستول شئ چې نړیوال تحفظ لپاره هلته درخواست ورکړئ.

## 03 / طبي معاینه


د فیداسیل ټیم به ددی ډاډګیرنه کوی چی که تاسی په ښه روغتیایی حالت کی وی. ټول کسان د طبي معاینې نه تېرېږي. ستاسو د اصلي هیواد په اتکاء کېدلی شي چې تاسو د ساري ناروغیو په ضد واکسین کړی شئ. نرسه به یو طبي راپور ولیکي.

مونږ به همداراز ستاسو د سږو یو ایکسری وباسو چې وګورو ایا تاسو نری رنځ لرئ که نه. دا یو ډېر ساري مرض دی او که تاسو په دې مریض یاست نو کېدلی شي چې شفاخانې ته مو واستوو.

## د هرکلي مرکز

**د دوشنبې نه تر جمعې پورې خلاص وی**

- د غوښتنلیک ثبتول د نړیوالی خوندیتوب لپاره( د پنا غوښتنی لپاره): ثبتول د سهار په 8:30.
- د مالوماتو د ترلاسه کولو لپاره د مالوماتو برخی ته ورشی: د سهار د 8:30 نه د ماشام تر12:30 پورې خلاص وی.



ادرس:
Rue de Passchendaele 2
1000 بروسلز

تلیفون 32+ (0)2 793 82 40
بریښنالیک: dispatching@fedasil.be

**په خپله خوښه د ستنېدنی برخه**

که تاسو خپل وطن ته په بېرته ستنېدو باندې غور کوئ نو فیدازیل تاسو سره کومک کولی شي.
تاسو د فیدازیل په 'د بېرته ستنېدو دفتر' کې پوښتنې کولی شئ.

بروسل 1000 – Rue d'Arenberg, 8
تلیفون 45 0800/327 یا (وړیا لمبر) 02/897 53 00
د دوشنبې نه تر جمعې پورې د سهار د 9:30 نه د ماښام تر 12:00پورې خلاص وی، او یا وخت اخیستنی له لارې.




نور مالومات؟ www.fedasilinfo.be

دغه فولډر په 14 ژبو کی شتون لری | ترتیبول: فیډازیل
ایډیټور: مایکل کیګلز | اوسمهالول: 03.2021